د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

# په افغانستان کې د پاریس د اعلامیې او د مرستو د اغیزمنتوب په هکله غبرګونونه

ربکا رابرتس

د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې میاشت

## د لیکوال په هکله

ربکا رابرټس د افغانستان دڅېړنې او ارزونې د حکومت دارۍ دډلې د څېړنې لوړ پوړې مشره ده. نوموړې د منځنۍ ختیځ د څېړنو په برخه کې علمي تجربه لري او د جګړې وروسته بیا رغونې او پرمختیا په برخه کې د لندن د یارک د پوهنتون دجګړې وروسته بیارغونې او پرمختیا ادارې(PRDU ) څخه ډیپلوم تر لاسه کړی. نوموړې د پالیسۍ په برخه کې په کولمبیا ، لبنان او سوډان کې د جګړې وروسته بیارغونې لکه امنیت، ثبات، د هیواد بیارغونه او د پراختیا بهیر په برخه کې څېړنې تر سره کړې دي.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په هکله معلومات

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU ) په کابل کې میشته یوه نا پیلې څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ خرنګوالي درلودونکې څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅېړنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والې دی.

نوموړې اداره په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته په کار پیل وکړ اود یو مدیره هیات درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو ، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د فنلند ، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA ) ، آسیایي بنیاد (TAF ) ، اروپایې کمیسیون (EC ) ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR ) ، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF ) ، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق (UNIFEM ) ، او نړیوال بانک له خوا یې مالي ملاتړ کیږي.

# کورودانی

زه د هغو ځواب ويونکو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې خپل وخت او تجربې يې په دغه څېړنه کې له مونږ سره شريکې کړې دي. همدا راز ليکواله له خپلو همکارانو څخه چې د څېړنې په بهير کې يې خپله مرسته نه ده سپمولې او ارزښتناک نظريات يې وړاندې کړي، او له هغو کسانو څخه چې د وروستي رپوټ په برابرولو کې يې زيار ايستلی د زړه له تله مننه څرګندوي.

ربکا رابرتس، د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې مياشت

۱۳۸۸ د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ټول حقونه خوندي دي. د دې خپرونې هيڅ يوه برخه بيا ځلې خپرولو، د بيا لاس ته راوړلو وړ سيستم کی زيرمه کولو يا په هيڅ ډول يا له هيڅ کومې لارې لکه برقی، ثبت يا نورو ډولونو ته نشي ليږدول کيدای مګر دا چې د مولف يعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې، مخکينی ليکلې اجازه ليک ترلاسه شوی وي. د اجازې د ترلاسه کولو لپاره publications@areu.org.af ته بريښنا ليک وليږی يا ۸۴۵ ۲۰۸ ۷۹۹ ۹۳+ شميري سره اړيکه ټينګه کړی.

## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| CEPPS | د ټاکنو او سیاسي بهیر د غښتلي کولو لپاره ګډون |
| CSO | د مدني ټولنې اداره |
| DIAG | د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول |
| GoA | د افغانستان حکومت |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| IFES | د ټاکنیزو سیستمونو لپاره نړیوال بنسټ |
| IRI | د جمهوري غوښتونکو نړیوال انستتیوت |
| ISI | د استخباراتو مرکزي اداره |
| MOD | د دفاع وزارت |
| MOJ | د عدلیې وزارت |
| MP | د ملي شورا غړی |
| NDF | ملي ډیموکراټیکه جبهه |
| NDI | ملي ډیموکراټیک انستتیوت |
| NDP | نوی ډیموکراټیک ګوند |
| NDS | د ملي امنیت ریاست |
| NGO | غیر دولتي موسسه |
| NIMD | د څو ګوندیزې ډیموکراسي لپاره د هالیند د هیواد انستتیوت |
| PDPA | د افغانستان د خلکو ډیموکراټیک ګوند |
| SNTV | انفرادي د نه انتقال وړ واحده رایه |
| UNAMA | افغانستان ته د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت |
| UN | ملګري ملتونه |
| USAID | د امریکې د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره |

## ۱. سریزه

د مرستې د اغیزمنتوب مساله د افغانستان د حکومت، د نړیوالې ټولنې او د پراختیا په برخه کې د نورو فعالانو د اجنداوو په سر کې ځای لري.[1] له دې سره سره، د مرستو نه اغیزمنتوب تر ډېره حده تر نیوکو لاندې دی. دا نیوکې له هغه ځایه سرچینه اخلي چې خلک ګوري چې د مرستې اغیزه ډېره محدوده وه، امنیتي وضعه مخ په خرابېدو ده او دا چې مالي سرچینې یا په ناوړه توګه اداره شوي یا په کې اختلاس شوی دی. کله چې د پراختیا فعالینو په ځانګړې توګه بسپنه ورکوونکې د مرستې د اغیزمنتوب په اړه خبرې کوي، هغوی په ۱۳۸۴ کال کې د مرستې د اغیزمنتوب په اړه د پاریس اعلامیې ته ګوته نیسي او دا ارزوي چې آیا افغانستان ته شوې مرستې نوموړې اعلامیې د اصولو سره سم ترسره کېږي یا نه.

د پاریس اعلامیه په لوړه کچه دمرستې اغیزمن مدیریت ته د هغه میکانیزم له لارې چې د بسپنه ورکونکو او د مرستې ترلاسه کوونکي حکومت ترمنځ پرې جوړه شوې ده اشاره کوي. دغه څېړنیزه پاڼه د نوموړې اعلامیې محدودیتونه، او په افغانستان کې د مرستو د اغیزمنتوب لپاره ددغې اعلامیې د اصولو پروړاندې شته ننګونې تر بحث لاندې نیسي. دا مقاله په دې باور ده چې که څه هم د مالکیت ، همغاړیتوب،همغږې کولو ،د پایلو د سمبالولو ، او دوه اړخیزې حساب ورکونې له پنځو اصلو څخه باید ملاتړ وشي خو بیا هم دا یوائې د مرستو اغیزمنتوب ته د رسیدلو لپاره بسیا نه ده. دا ځکه چې نوموړې اعلامیه د تخنیکی اصولو سره سم برابره شوې ده او د مرستې سیاسي اړخ په پام کې نه نیسي، او داسې طرحه شوې ده چې د پراختیایي مرستو لارښوونه وکړي، نه د مرستو او ثبات د ټینګښت د هلو ځلو.

نوموړې اعلامیه نړیواله ټولنه د مرستو پر اغیزو د پاملرنې پرځای یوائې د مرستو پر مدیریت پاملرنې ته هڅوي. سربېره پر دې، د پاریس اعلامیه او نورې نړیوالې موافقې د پراختیا فعالان په یو لړ داسې پروسو پابنده ساتي چې د افغانستان د حالاتو او په نوموړې هیواد کې د شته ننګونو لکه دوامداره ناامنې؛ د کورنیو او نړیوالو ظرفیتونو کموالی؛ خوګونې او زیاتره توپیر لرونکې اجنداوې؛ نامعلومه موخې؛ د نظامي، بشري، او پراختیایي اقداماتو ترمنځ تنې کرښې، خپور اداري فساد او د همغږۍ د نشتوالې، د په پام کې نیولو سره سره، غوره لارې چارې نه بریښي.

دا مقاله د پاریس د اعلامیې او په افغانستان کې د اغیزمنې پراختیایي پروسې د پیل پر وړاندې د شته ننګونو په لنډې څېړنې سره پیل کېږي. د دې لپاره چې د مرستې د اغیزمنتوب پر بیلابیلو اړخونو د شته ننګونو اغیزه ځرګنده شي، دا څېړنیزه مقاله د پاریس د اعلامیې د پنځو اساسي اصولو سره سمه تنظیم شوې ده. د دې مقالې

۱ دغه مقاله د هغو اسنادو پر بیاکتنې او پر هغو معلوماتو ولاړه ده چې د لوړپوړو نړیوالو او کورنیو فعالینوله خوا چې په افغانستان کې د مرستو د مدیریت په چارو کې ښکیل دي وړاندې شوې دي. مرکې او غونډې په کابل کې د ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کلونو په ترځ کې ترسره شوې دي.

موخه دا ده چې ننګونو ته د پام اړولو له لارې د مرستې اغېزمنتوب په اړه خبرواترو ته وده ورکړي او د پاریس د اعلامیې د کاري چوکاټ محدودیتونه په ګوته کړي.

## ۲. د پاریس اعلامیه: محدودیتونه او ننګونې

د پاریس اعلامیه داسې شاخصونه ټاکي چې پر هغو باندې بسپنه ورکوونکې او ګټه اخیستونکې هیوادونه د نوموړې اعلامیې د پنځو اساسي اصولو ته د رسیدو لپاره خپل پرمختګ اندازه کوي. په ۱۳۸۷ کال کې د پاریس د اعلامیې د څارنې سروې څرګندوي چې: افغانستان او د هغه بسپنه ورکوونکې په مالکیت او د پایلو د مدیریت په برخو کې ټیټې نمرې، او د همغاړې کولو او همغږۍ کولو په برخو کې منځنۍ نمرې، او په دوه اړخیزه حساب ورکونه کې لوړې نمرې تر لاسه کړې دي.[2] سره له دې کارول شوي شاخصونه ډېر نري او بیروکراتیک دي او د مرستو سیاسي اړخ[3] یا د مرستې کیفیت او په ډګر کې د هغوی د اغېزې ارزونه په پام کې نه نیسي. داسې ښکاري چې پراختیایي هلې ځلې د پروسو او میکانیزمونو په واسطه بل لوري ته اړول کیږي.[4] دا واقعیت اوس په پراخه توګه را بر سیره شوی چې د پاریس اعلامیه پخپله اوسنۍ بڼه کې ډېره فني ده او د مرستو د پیچلتیاوو او یا د بسپنه ورکوونکو او د مرستې ترلاسه کوونکو حکومتونو تر مینځ د شریکتوب غوښتنو کې چې تر ډېره حده بیروکراتیکې اړیکې دي پاتې راغلې ده.[5]

د اعلامیې یو بل محدودیت دا دی چې د هغې اصول د پراختیایي مرستو د پلي کېدو لپاره په پام کې نیول شوې دي. په افغانستان کې د امنیت پیچلې وضعیت او رواني بشري اندېښنې لکه وچکالي او خوراکي خوندیتوب، په دې مانا ده چې د مرستې یوه مهمه برخه په نارامو سیمو کې د ثبات د رامنځته کولو او د زیانمنېدونکو ډلو د مرستې د رسولو لپاره مصرفېږي. دواړه باید ډېر زر پلي شي او په خپلو بېړنیو موخو کې له پراختیا سره توپیر لري. ځینې فعالان دا استدلال کوي چې ثبات د پراختیایي مرستو د چتر څخه د باندې دی او څکه نو د پاریس د اعلامیې تر پوښښ لاندې نه دی.[6]

د محدودیتونو سره سره، زیاتره نړیوال فعالان پر دې ټینګار کوي چې د پاریس د اعلامیې د اصولو څخه باید ملاتړ وشي. دوی همدارنګه په دې باور دي چې نوموړې اعلامیه د مرستو د مدیریت او رسونې د اصلاح او د غوره عملونو په اړه د بسپنه ورکوونکو د پوهاوي د زیاتوالي پر لور لاره پرانیستې ده. په عین حال کې، نړیوال فعالان

۲۲د ۱۳۸۸ کال د پاریس د اعلامیې د اغېزمنو مرستو د څارنې سروې په ۲۰۱۰ کال کې؟ په دې کې به څه شامل وي، ۲ ټوک، د هیواد برخه،

(د ۱۳۸۷ کال د مرستو د اغېزمنتوب په هکله د لوړې کچې جرګه، اکرا، ګانا د ۱۳۸۷ کال د وږي د میاشتې ۱۴۱۲ )

۳ Stefan Meyer and Nils Sjard Schultz, Paris to Accra: building the global governance of aid, (Madrid: Fride, August 2008), 16.

۴ د لیکوال مرکې، کابل، د ۱۳۸۷ کال د زمري میاشت.

۵ Meyer and Schultz, Paris to Accra ,۱۲.

۶ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري مرکه، کابل د ۱۳۸۷ کال د وږي میاشت.

دا تاییدوي چې په افغانستان کې د مرستو رسول یو سیاسي شوی بهیر دی چې یوائې د پاریس د اعلامیې د اصولو په پلې کولو نشي تر سره کیدای. سربېره پر دې، ځینې فعالان وایي چې د پاریس د اعلامیې د مرستې د اغیزمنتوب د اندازه کولو شاخصونه د استفادې وړ نه دي او د مرستو د اغیزمنتوب رښتینې اندازه نه برابروي.[7] لاندینی بحث د پاریس د اعلامیې د پنځو اصولو د پلي کولو په وړاندې ځینې ننګونې په لنډ ډول په ګوته کوي.

## ۱.۲ مالکیت

د پاریس اعلامیه وایي هغه هېوادونه چې پراختیایي مرستې ترلاسه کوي باید "د خپلو پراختیایي تګلارو او ستراتیژیو لپاره اغېزمن مشرتوب وکاروي او پراختیایي فعالیتونه همغږې کړي." [8] ملي مالکیت د دې تضمین کوي چې پراختیایي هڅې د خلکو اړتیاوې تر سره کوي، او غوره دي.

مالکیت ښايي بیلابیلو خلکو ته په بیلابیلو شرایطو کې بیلابیل مفهوم او معنی ولري. د پاریس اعلامیه د حکومت پر مالکیت تمرکزلري، چې د ملي ملکیت پر لور لاربښونه نه کوي ، په ځانګړې توګه کله چې د خلکو او حکومت تر مینځ اړیکي کمزورې وي. د پراختیایي پروسو د مالکیت درلودلو، او ددې لپاره چې هغه د هیواد د اړتیاوو سره سم پلان، اداره او پلې شي باید هلته ملي ظرفیتونه شتون ولري. په افغانستان کې په ملي کچه د حکومتي چارواکو، وزارتونو، او ملکي کارکونکو[9] د ظرفیت نشتوالې د مرستو پر مدیریت ډېر سترې منفي اغېزې شیندلې دي. چې په لوړه کچه پریکړه کول یې نور هم ستونزمن کړې دي، چې په پایله کې یې لوړپوړي کارکونکې د کار تر اغیزې لاندې راغلي دي. د ټیټې کچې د کارکونکو د نوښت لپاره د تجربو د نه درلودلو ، ویرې، او د نه لیوالتیا له کبله دا کار نور هم ستونزمن شوی.[10]

ټیټ ظرفیت داسې یوه لیوالتیا یې را مینځ ته کړې تر څو د یوې ادارې پر ځای د وړتیا درلودونکو وګړو سره کار وکړي. دې ستونزې د پراختیا د پروسې ثبات یې له ګواښ سره مخ کړی دی، ځکه چې د اقداماتو او هڅو بریا تر ادارو زیاته پر وګړو ډېره متکي ده. دغې ستونزې دهغو فعالو ښکیلو خواوو د شمیر د محدودولو له کبله د مالکیت د پراخ احساس کچه یې هم راټیټه کړې ده.

یوه بله مسأله چې ملي مالکیت یې له ننګونې سره مخامخ کړی د بهرني نفوذ اهمیت دی. هغه وخت چې پراختیایي کړندودونه او لارې چارې په بهر کې ټاکل کیږي او نړیواله ټولنه د مرستو لپاره شرطونه ټاکي نو د ملي مالکیت

---

۷ د لیکوال مرکې، کابل ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸

۸ د مرستو د اغیزمنتوب په هکله د پاریس اعلامیه( د لوړې کچې غونډه ۱۳۸۴ کال د ۱۳۸۳ کال د کب د میاشتې ۱۰ ۱۲) ۳

۸ د لیکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۶ کال د مرغومې میاشت؛ د لیکوال مرکه، کابل، ۱۳۸۷ کال د وري میاشت.

۹ د لیکوال مرکه، کابل، ۱۳۸۷ کال د مرغومې میاشت.

لپاره دا څه مفهوم لري؟ د بېلګې په توګه، د ډېر پوروړي بېوزله هېواد (HIPC) په توګه، د پور د مرستو د ورتیا ترلاسه کولو لپاره باید یو هېواد د بېوزلۍ د کمولو د ستراتیژۍ سند (PRSP) جوړ کړي. که څه هم په عامه کچه دا استدلال کېده چې د افغانستان د بېوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ سند (PRSP) د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ سند (ANDS) یو افغاني سند دی، خو د پردې تر شا بیا په دې اړه زیات بحثونه روان وه، او نړیوالې ټولنې هڅه کوله چې د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ سند د هغه له غوښتنو سره سم عیار کړي.[11]

## ۲,۲ همغاړیتوب

د پاریس په اعلامیه کې د همغاړیتوب اصل دا غوښتنه کوي چې مرستندویان باید "خپلې عمومي مرستې د ملګرو هېوادونو پر پراختیايي ستراتیژیو، مؤسسو، او کړنلارو متمرکزې کړي.[12] سره له دې هغه هېوادونه چې پراختیايي مرستې ترلاسه کوي، معمولاً له سیاسي ستونزو سره مخامخ دي، او دا احتمال لیدل کیږي چې همغاړیتوب سیاسي بڼه غوره کړې وي.

په افغانستان کې نړیوال فعالان باید هڅه وکړي څو د عملي ملاتړ د وړاندې کولو له لارې دقیق توازن وکاروي ، او په عین حال کې د خپل واټن د ساتلو سره سم رغونکې نیوکې وړاندې کړي. دا د حکومت دارۍ سمون ته د رسیدو لپاره ډېر ګران کار دی. د افغانستان د دولت له خوا د سیمه ایزې حکومت دارۍ دخپلواک ریاست (IDLG) جوړېدنه د نړیوالې ټولنې د هغه غوښتنو سره په غبرګون کې وه چې سیمه ایز جوړښتونه او کړنلارې باید پیاوړې او ځرګندې وي. سره له دې دا ریاست په زیاتېدونکې توګه د حامد کرزي لپاره د یوې سیاسي وسیلې په توګه پیژندل شوی دی.[13] نو د نوموړې ریاست څخه د مالي ملاتړ سره نړیواله ټولنه په حقیقت کې له پراختیايي بهیر څخه نه، بلکې د حامد کرزي له حکومت څخه ملاتړ کوي. خو بل لور ته، که مرستندویان د دې ریاست سره مرسته ونه کړي، نو بسپنه ورکونکې به په حقیقت کې د سیمه ایزې حکومتدارۍ د اصلاح لپاره د حکومت هڅې له پامه غورځولې وي، او له حکومتي پالیسیو سره په همغاړیتوب کې به پاتې راغلې وي.

د افغانستان د دولت ظرفیت د زیاتو پیسو د ادارې لپاره ټیټ ارزول شوی، او د فساد تورونه په پراخه توګه تر سترګو کیږي. له همدې امله، مرستندویان دې ته نه دي چمتو چې مستقیمې مالي مرستې وکړي. د نړیوال بانک ارقامو پر بنسټ د پراختیايي مرستې دوه دریمه برخه د حکومت له بودیجې څخه بهر مصرفېږي.[14] چې دا کار پر پراختیايي پیسو او پروسو د حکومت مالکیت او کنټرول محدودوي. د نړیوال بانک تر څارنې لاندې د

---

۱۱ د لیکوال مرکه، کابل، ۱۳۸۷

۱۲ د مرستو د اغېزمنتوب په هکله د پاریس اعلامیه، ۴.

۱۳ د لیکوال مرکه، نړیوال بصیرت لرونکې څارونکي، کابل، ۱۳۸۷

۱۴ د نړیوال بانک ډله "نړیوال بانک په افغانستان کې د پراختیا په برخه کې د لګېدونکو مرستو د اغېزمنتیا زیاتولو استدلال کوي." http://www.worldbank.org.af/WBSITE/EXTERNAL/COUNTRIES/SOUTHASIAEXT/AFGHANISTANEXTN/0,,contentMDK:21788937~menuPK:306004~pagePK:2865066~piPK:2865079~theSitePK:305985,00.html, 3 June 2008 (accessed 12 February 2009).

افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق (ARTF) رامنځته کېدل یو جوړ جاړی دی.[۱۵] که څه هم مرستندویانو ته د دې واک نه ورکول کېږي چې د افغانستان د بیارغونې د وجهی صندوق له لارې د تنظیم شویو پیسو په اړه خپل شرایط وضعه کړي دوی دا وړتیا لري چې د پیسو د ویش د څرنګوالي په اړه خپل غوره توبونه څرګند کړي. ځینې سیمې کمې پیسې تر لاسه کوي، او د مالیې وزارت د بودیجې د تنظیم واک کمزوری شوی دی. د دې کار په پایله کې د همغاړیتوب، او د ملي مالکیت کچه را ټیټه شوې ده.[۱۶] د دولت او عامه سکټور په برخه کې د فساد په نښه کولو کې پاتې راتلل، او د عامه اداري سمون په برخه کې لږ پرمختګ د خلکو په مینځ کې یې د افغانستان د دولت او مرستندویانو اعتبار ته زیان رسولی دی.[۱۷]

## ۳,۲ همغږي

د پاریس اعلامیې د بسپنه ورکونکو د فعالیتونو د همغږۍ ملاتړ کوي چې "په ګډه توګه اغېزمن"[۱۸] وي. اوس مهال د افغانستان حکومت د مرستو د مدیریت د مسوولیت د پر غاړه اخیستلو لپاره لږ ظرفیت او وړتیا لري،[۱۹] چې په داسې یوه نازک حالت کې د پاریس د اعلامیې د لارښوونو سره په اغیزمن ډول د مرستو د رسولو لپاره، "د پیاوړې دولتي مشرتابه په نشتوالي کې همغږي خورا مهمه ونډه لري" او مرستندویان باید د خپلو فعالیتونو د بشپړې هغمږۍ ژمنه وکړي.[۲۰]

که څه هم چې ځینې تجربه لرونکې فعالان دا استدلال کوي چې د پاریس اعلامیې د مرستندویانو ترمنځ د همغږۍ په وده کې مرسته کړې ده[۲۱] خو ګڼ شمیر نور بیا د همغږۍ د لږوالي څخه چې لا تر اوسه تر سترګو کیږي چې تر ډیره حده یې د مرستو اغیزمنتوب کمزوری کړی یادونه کوي.[۲۲] د حکومت د مشرتابه په نشتوالي کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوی (UNAMA) باید د مرستندویانو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو مسؤولیت په غاړه واخلي. مرستندویان وایي چې دوی د نومووړې ادارې څخه د ملاتړ لپاره چمتو دي، خو دا اداره هم ډیر ځلې د کمزورتیا او د کارکونکو او سرچینو د کموالي له پلوه تر نیوکو لاندې ده.[۲۳] د ملګرو ملتونو نوموړې اداره بیا دا استدلال کوي چې دوی له وړاندې نه

---

۱۵ د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق یو څو مرستندوییز وجهي صندوق دی چې نړیوال بانک یې اداره کوي. دلته د مرستندویانو هغه بسپنه راټولېږي چې د افغانستان د دولت د لګښتونو او پانګه اچونې لپاره مصرفېږي.

۱۶ د لیکوال مرکه، کابل، ۱۳۸۶ کال د سلواغې میاشت

۱۷ د نړیوال بانک ډله "نړیوال بانک په افغانستان کې د پراختیا په برخه کې د لګېدونکو مرستو د اغېزمنتیا زیاتولو غوښتنه کوي."

۱۸ د مرستو د اغېزمنتوب په اړه د پاریس اعلامیه.

۱۹ د لیکوال مرکه، کابل، د۱۱۳۸۷ کال د زمري میاشت.

.۲ د مرستو د اغېزمنتوب په اړه د پاریس اعلامیه ۷.

۲۱ د لیکوال مرکه، ۱۳۸۷ کال د سلواغې میاشت

۲۲ د لیکوال مرکه، ۱۳۸۷ کال، د وږي میاشت

۲۳ د لیکوال مرکه، کابل، ۱۳۸۷ ۱۳۸۸

د يو مرکزي مشرتابه او همغږۍ رول لوبوي.[۲۴]

د همغږۍ نه شتون د هغو ګڼ شمير فعالينو له خوا چې د پراختيا په بهير کې ښکيل وه نور هم زيات شوی له بيلابيلو قيموميتونو سره لکه: د افغانستان دولت، بسپنه ورکونکې، ملګرې ملتونه، دولتي او نادولتي ادارې، خصوصي شرکتونه، د امنيت نړيوال مرستندوی ځواک (ISAF)، د ولايتي بيارغونې د ډلو له لارې (PRTs).[۲۵]

ځينې د بصيرت درلودونکې څارونکې داسې احساسوي چې په افغانستان کې نړيوال حضور ډېر ستر او پيچلی دی چې د هر چا لپاره دا نا شونې بريښي چې ددې په اړه يو اغيزمن لرليد ولري.[۲۶] سر بيره پر دې، "په افغانستان کې د نړيوالو فعالينو ترمنځ د فعاليتونو د لومړيتوب ټاکلو او ترتيب په هکله رښتينې سياسي توپيرونه شتون لري."[۲۷] چې حالات يې پيچلې کړي او د بشري، پراختيايي، سياسي او پوځي چارو تر مينځ کرښه يې تته کړې ده. د فعالانو شمېر او اجنډاوو د په پام کې نيولو سره آيا ممکنه ده چې د يوې غښتلې همغږۍ کوونکې ادارې له لارې دغه ډول همغاړيتوب رامينځته شي؟

داسې اند ښنه هم موجوده ده چې له همغږۍ پرته به مرستې ټوټه ټوټه شي، ځکه چې حکومت مرستې نه شي همغږې کولای.[۲۸] يو عنصر چې د مرستو د پاشلتيا لامل کېدای شي، د مهمو بسپنه ورکونکو مالي مرستې ددې پر ځای چې د دولت له لارې تر سره شي زياتره ددوی پر پوځي او ولايتي بيارغونې ډلو د فعاليتونو پر سيمو باندې متمرکزې دي. کله چې سرتېرې وژل کېږي، دا ځانګړې اهميت لري چې په خپلو هېوادونو کې خلکو ته د دې په اړه ډاډ ورکړي چې مرستې د نظامي عملياتو په ملاتړ کې مصرفېږي. کاناډا د افغانستان د بيارغونې وجهي صندوق او ملګرو ملتونو ته د مرستې په کمولو سره، او کندهار ته په ځانګړې پام اړولو له ملي کچې ولايتي کچې ته د تمرکز په برخه کې لومړی ګام اخيستی دی.[۲۹] که چېرې د مالي مرستو د اغيزمنې همغږۍ يو غښتلی ميکانيزم موجود وای نو د مرستو د پاشلتيا مخه نيول کېدای شوای. اوس مهال، هيڅ سازمان يا اداره هم په داسې مقام کې نه ده چې د مرستو د مساويانه وېش چارې سمبال کړي. د مرستندويانو د سياسي او انساني ګټو تر مينځ خړپړتياته په پام سره، او د مرستندويانو لپاره ددې اړتيا څو په افغانستان کې د پراختيا او ثبات موخې په عين وخت کې تعقيب کړي، آيا همغاړيتوب ممکن دی؟ او آيا دا حتمي ده چې د ثبات راوستلو لپاره

۲۴ د ليکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۸ کال د زمري مياشت

۲۵ د آيساف د څرګندونو سره سم، د ولايتي بيارغونې ډلې، داسې ملکي نظامي ادارې دي چې د افغانستان په لرامنو سيمو کې بيارغنيزو او پراختيايي فعاليتونو ته لاره هواره کړي، د آيساف مرکزي قوماندانې، "د ولايتي بيارغونې ډلې بيا کتنه" (د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ مياشت)

۲۶ د ليکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال د لړم مياشت او د ۱۳۸۷ کال د سلواغې مياشت.

۲۷ Helge Lurås, Niels Nagelhus Schia, Stina Torjesen and Stale Ulriksen، له يوې منسجمې پاليسۍ نه تر يوه همغوې شوې عمله: آيا موږ په منطقي توګه په افغانستان کې په وړاندې ځو، د ۱۳۸۷ کال کنفرانس، اسلو، دناروې د نړيوالو چارو انستيتيوت د ۱۳۸۷ کال د لړم د مياشتې ۲۷ ۲۸) ۳

۲۸ د ليکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال د زمري مياشت.

۲۹ د ليکوال مرکه، کابل، ۱۳۸۷ کال د زمري مياشت.

پر نا آرامه سیمو ځانګړی تمرکز مرستې او سرچینې د مرکز څخه بل لورې ته واړوي، او د همغږۍ هڅې کمزورې شي؟[۳۰]

## ۴,۲ د پایلو سمبالول

د پاریس د اعلامیې سره سم «د پایلو سمبالول دا معنا لري چې مرستې په داسې توګه تنظیم او تطبیق شي چې پر مطلوبو پایلو تمرکز ولري، او د پریکړې کولو د اصلاح لپاره کره معلومات وکارول شي.»[۳۱] په افغانستان کې د مرستو نړیوالې هڅې ډېر ځله د سوچه انساني موخو لپاره نه ، بلکې د ګڼو نړیوالو او کورنیو سیاسي او امنیتي ملحوظاتو پر بنا تنظیمېږي. د نړیوالو فعالانو پاملرنه لا هم د هېواد په ډېرو سیمو کې جګړې او سیمه ایز ځواک اغیزې ته اړول شوې ده. په پای کې د مرستو د رسولو اغېزمنتیا اکثرا د دوهمې درجې موخه ګڼل کېږي. امنیت د مرستو د زیات اغیزمنتوب لپاره یو ستر لامل ګڼل کیږي، خو او سمهال وضعیت بل ډول دی: مرسته د پوځي او سیاسي موخو لپاره کارول کیږي. آیا ، که مرسته لومړنۍ موخه نه وي، نو مرستې اغېزمنې کیدای شي؟

په نا امنه سیمو کې د ثبات ټینګولو په موخه د مرستو کارونه د دې لامل کیږي چې پوځي او پراختیایي موخې یو له بله سره ګډې شي. نادولتي مؤسسې دا ادعا کوي چې د هغوی خوندیتوب او اصولو پر سر جوړه شوې، ځکه چې ملکي خلک او وسلوالې ډلې هغوی د پوځ برخه بولي.[۳۲] د پراختیایي فعالانو هڅونې او وفاداریو په اړه هم جوړه شوې، ځکه چې د مرستو د اغېزمنتوب تر ټولو ښه رسم مرستندویان هڅوي څو د دولت په لارښوونه د نوښتونو څخه ملاتړ وکړي. په داسې یوه هېواد کې چې هلته جګړه روانه وي، دا د دې معنا لري چې مرستندویه ټولنه په شخړه کې د دولت سره په یوه لیکه دریدلې ده. په دې توګه نادولتي ادراک هم اغیزمنې کیږي. د بېلګې په توګه، هغه غیر دولتي موسسې چې د حکومتي نوښتونو په برخه کې د شریکانو سره کار کوي لکه د ملي پیوستون پروګرام(NSP) ، د دولت ملاتړکونکې ګڼل کېږي.[۳۳]

د کره معلوماتو نشتوالی د پایلو د ترلاسه کولو په وړاندې بله ننګونه ده. د افغانستان په اړه، آن لومړنۍ احصائیې، لکه د وګړو شمېره، هم نشته دي.[۳۴] د نړیوال بانک د ۱۳۸۷ کال شمېرنې ښیي چې د افغانستان د وګړو شمیر ۳۳ ملیونه دی.[۳۵] د ۱۳۸۵ لمریز کال (۲۰۰۶ ۲۰۰۷ ) کال د افغانستان د مرکزي احصائیې د اټکل له مخې د

۳۰ د لیکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال د زمری میاشت

۳۱ د مرستو د اغېزمنتوب په هکله د پاریس اعلامیه، ۷

۳۲ د ولایتي بیارغونې د ډلې په یوه کنفرانس کې په یوه آزاد بحث کې ثرګند شوي نظریات، ۱۳۸۷، آیساف (کابل: د ۱۳۸۷ کال د وږې میاشت).

۳۳ د لیکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال د کب میاشت

۳۴ توماس ایچ ایګمی، "د افغانستان نفوس، مېشت، کوچیان، بې ځایه شوي، کډوال: د هغوی شمېر، ځای، او توکمیز جوړښت" (بوسټن: د امریکا د پوهې د پراختیا ټولنه، د افغانستان او تروریزم په اړه ناسته: نړیوال بدلون؟ د ۱۳۸۰ کال د سلواغې ۲۷ ).

۳۵ د پاریس د اعلامیې د مرستو د اغیزې تر ۱۳۸۹ پورې د څارنې په اړه د ۱۳۸۷ کال سروې؟ ۳

هيواد د وګړو شمېر ۱،۲۴ مليونه دی.[۳۲] تر شخړو وروسته د واقعي اړتياوو په اړه تل يو ډول ناباوري موجوده ده، ځکه دلومړنيو معلوماتو نشتوالی، ليرې پرتو سيمو ته کمزورې لاسرسي، او محدود ارتباط او خوځيدنه موجوده ده. روانو شخړو د سولې په اړه ډاډ يې را کم کړی دی، بې ثباته سيمو ته محدوده لاس رسي، د خلکو تر مينځ يې ويره او بې باوري را مينځ ته کړې ده. آيا د پراختيايي چارو فعالان د خلکو د اړتياوو ارزولو او د هيلو د سمبالولو لپاره بايد لا ډېرې هڅې وکړي؟ آيا يوه ربښتينې لاره چاره، د هغه عملي ننګونو په پام کې نيولو سره چې د معلوماتو د کمښت له امله رامنځته شوي، د پراختيا اغېزې اصلاح کولای شي؟

## ۲.۵ دوه اړخيزه حساب ورکونه

دوه اړخيزه حساب ورکونه، د امعنی لري چې بسپنه ورکوونکې او مرسته ترلاسه کوونکې حکومتونه د پراختيايي پايلو مسؤليت په غاړه لري.[۳۷] دوه اړخيزه حساب ورکونه په افغانستان کې تر يوه حده لوړه ښودل شوې، ځکه چې د دوه اړخيزې ارزونې ميکانيزمونه چې د پاريس د اعلاميې غوښتنې پرځای کوي موجود دي.[۳۸] بياهم، دا څرګنده نه ده چې د افغانستان دولت به وکولای شي حساب ورکونکی و اوسي په دا سې حال کې چې د پاريس دهمدې اعلاميې د څارنې سروی د مالکيت په برخه کې افغانستان ته ټيټې نمرې ورکړې دي: او که چيرې ملي مالکيت لږ وي نو مرسته ترلاسه کونکی هيواد به څه ډول حساب ورکونکی کيدای شي؟[۳۹]

دا څرګنده نه ده کله چې اړيکې مساوي نه وي، نو دوه اړخيزه حساب ورکونه به څرنګه ممکنه وي. د مرستو د اغېزمنتوب په برخه کې دوه اړخيزې حساب ورکونې ته د رسيدو لپاره ټينګار تر ډېره حده د راپورونو پر توليد دی. دا يوې داسې مسألې ته له تخنيکي نظره د کتنې په معنا ده چې هم سياسي اراده او هم د يو دوه اړخيز مسووليت احساس غوښتونکې ده تر څو پر نا انډولی برياتر لاسه شي. سر بيره پر دې، د پاريس د اعلاميې د دوه اړخيزې حساب ورکونې او نورو اصولو د څارنې بهير هم د بسپنه ورکونکو د غوښتنو سره سم د معلوماتو لپاره پر مخ ځي.[۴۰] دا يوه دوه اړخيزه لاره چاره نه ده.

د پاريس اعلاميه د مرستندويانو او مرسته ترلاسه کوونکې دولتونو ترمنځ پر دوه اړخيزه حساب ورکونې تمرکزکوي. په افغانستان کې دوه اړخيزه حساب ورکونه د ګڼ شمير فعالانو تر مينځ يوڅو لاريز بهير دی. هغه ټول فعالين چې بايد د دوه اړخيزې حساب ورکونې په بهير کې ګډون وکړي بايد معلومات موجود وي. وروسته بيا دغه معلومات بايد درک شي، او د معلوماتو شننه تر سره شي څو دا څرګنده کړي چې آيا پراختيايي بهير

۳۲ د افغانستان اسلامي جمهوريت د مرکزي احصائيې دفتر، د افغانستان د ۱۳۸۷۱۳۸۲ کال د کلنی احصائيې راپور، ټوک شمېره ۲۸، (۱۳۸۲(۲۰۰۷ ۲۰۰۸))

۳۷ د مرستنو د اغېزمنتوب په اړه د پاريس اعلاميه.

۳۸ د پاريس د اعلاميې تر ۱۳۸۹ پورې د مرستو د اغېزمنتوب د څارنې په اړه د ۱۳۸۷ کال سروې. ۱۷

۳۹ د پاريس د اعلاميې تر ۱۳۸۹ پورې د مرستو د اغېزمنتوب د څارنې په اړه د ۱۳۸۷ کال سروې. ۱۷

۴۰ مېير او سکولتز، له پاريسه تر اکرا، ۵.

مناسب او اغېزمن دی او د فعالینو هڅې د حساب ورکولو لپاره رښتینې دي.[۴۱] دوه اړخیزه حساب ورکونه تر هغو نشي تضمینېدلای چې د څارنې لپاره اغېزمنې ادارې د تخصصي ورتیا سره نه وي را مینځته شوې، او د خلکو ترمینځ دومره ظرفیت نه وي را مینځته شوی چې د خپرېدونکو معلوماتو کیفیت پرې و ارزولای شي. د دوه اړخیزې حساب ورکونې اصلاح کول مالي لګښتونو ته اړتیا لري. په دې اړه هم باید را پورونه جوړ او بیا کتنه یې وشي، او که چیرې د قناعت وړ نه وي بیا دې تر پوښتنې لاندې ونیول شي.

د پراختیایي هڅو بیلا بیل ډولونه د دوه اړخیزې حساب ورکونې پر وړاندې ننګونه شمیرل کیږي. نړیوال فعالان استدلال کوي چې د بشري فعالیتونو په برخه کې دوه اړخیزه حساب ورکونه ممکنه نه ده، ځکه چې دا کار باید په بېړه ترسره شي، او د حالاتو او په سمه توګه د اغېزمنتیا د څرګندولو په موخه د معلوماتو د ارزولو لپاره پوره وخت نشته.[۴۲] آیا د پوځ او د ولایتي بیارغونې ډلو لخوا د ورکړل شوېو مرستو په برخه کې دوه اړخیزه حساب ورکونه موجوده ده، او یا هغه د ثبات او بیارغونې لپاره د مرستو له ډلې څخه دي، نو ځکه د پاریس د اعلامیې تر پوښښ لاندې نشي راتلای؟

په پای کې، آیا دا به ممکنه وي چې د ګڼ شمیر فعالینو تر مینځ رښتیني حساب ورکونه تر سره شي په داسې حال کې چې د تر ټولو مهمې حساب ورکونې اړیکه د مرستې تر لاسه کوونکې هیواد پر ځای د بسپنه ورکونکو هیوادونو او ددوی د مالیه ورکونکو تر مینځ ده؟ دوه اړخیزه حساب ورکونه د ستاینې وړ ده، خو داسې ښکاري چې په افغانستان کې دې ته د رسیدو پیچلتیا له پامه غورځول شوې ده.

## ۳ پایله

په افغانستان کې ګڼ شمیر لاملونه د مرستو اغېزمنتوب محدودوي چې د پاریس د اعلامیې په کاري چوکاټ کې هغه نشي په نښه کیدای. دې لیکنې د نومړو لاملونو له ډلې څخه یې کم شمیر په ګوته کړې دي. د پاریس د اعلامیې اصول د مرستو د اغېزمنتوب لپاره یو بنسټ برابروي، خو بیا هم ځینې اساسي ستونزې موجودې دي چې باید د پالیسۍ په کچه په نښه شي، تر څو په افغانستان کې د مرستو اغېزمنتوب لوړ کړای شي:

- د مرستو اغېزمنتوب ته لومړیتوب ورکول

د مرستو اغېزمنتوب یواځې هغه وخت لوړ حد ته رسیدلای شي چې هغه په لومړیتوب کې وي. د مرستو اغېزمنتوب هغه وخت کمیږي چې مرستې د سیاسي او پوځي موخو لپاره په دوهمه درجه کې وي.

۴۱ د لیکوال مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ میاشت.

۴۲ د لیکوال مرکه، کابل، سپتمبر، ۲۰۰۸

- **د سیاسي اړخونو په نښه کول**

د پاریس د اعلامیې تخنیکي طبیعت پراختیایي فعالانو ته د افغانستان د پېچلي سیاسي وضعیت په هکله د مباحثې موقع نه ورکوي. د پاریس د اعلامیې په وړاندې سیاسي ننګونې او محدودیتونه باید په پام کې ونیول

شي، او آزاد بحث پرې وشي، تر څو د مرستو د اغیزمنتوب بحث مخ پر وړاندې ولاړ شي او په افغانستان کې د مرستو اغیزمنتوب اصلاح شي.

- **د محدودیتونو پیژندنه**

د پاریس اعلامیه، چې پر پراختیایي مرستو متمرکزه ده، لازمه نه ده د ثبات د هڅو او مرستو پر چارو هم د تطبیق وړ وي. د پراختیایي، انساني، او پوځي فعالانو او ددوی د هڅو یا اقداماتو تر مینځ کرښه تته او ناڅرګنده ده. داسې یو عمل ته اړتیا لیدله کیږي تر څو د مرستو د اغېزمنتوب لپاره دغه موضوع په نښه کړي او په پیچلو حالاتو کې ددې موضوع په اړه مباحثه پر مخ ولاړه شي.

- **د اغېزو اندازه کول**

د پاریس اعلامیې ته غاړه اېښودل هم د مرستو مثبتې اغیزې نشي تضمینولای. دغه اعلامیه یوازې اصولو ته غاړه اېښودل اندازه کوي، نه د مرستو واقعي اغېزمنتوب. د مرستو د لوړې اغېزمنتیا د تأمین لپاره باید فعالان د پاریس د اعلامیې د اصولو د څارنې وړاندې هم نظر واچوي او نه یوازې پر بهیر بلکې پر اغېزو او پایلو هم تمرکز وکړي.

- **د معلوماتو او پوهې د کچې اصلاح**

د پاریس اعلامیه د یوه کاري چوکاټ په توګه د مرستو د اغېزمنتوب دلاربښوونې لپاره په کارول کېدای شي، خو د افغانستان په اړه د لومړنیو معلوماتو تشه نشي ډکولای. د مرستو د اغېزمنتوب د تضمین لپاره باید پروګرامونه د اساسي معلوماتو کارول او د اړتیاوو ارزونه رامینځ ته کړي.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړیا توګه تر لاسه کولای شئ:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار

کابل، افغانستان

ټلیفون: ۸۴۵ ۲۰۸ ۷۹۹ ۹۳+

برښنالیک: areu@areu.org.af برښنا پاڼه: www.areu.org.af